Social Sceince
AcademicJournal

لیډ د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# د نبوي هداياتو په رڼا کې د اوبو پاکوالي ته کتنه

ن.پوهنیار محمد سالیم ثمین
اسلامي تعلیماتو خانګه، شرعیاتو پوهنځی هلمند پوهنتون
مسؤل ايميل ادرس: Salimsamin33@gmail.com

## لنډيز

په نبوي احاديثو کې اوبو ته ډېر اهميت ورکړل سوی دی ځکه چې اوبه د ژوند لپاره ضروري دي او هر څوک په کې حق لري، اسلام انسانانو ته لارښوونه کړې چې اوبه له ککړتيا وساتي او په پاکوالي کې يې بې پروايي ونه کړي، په حديثونو کې دا يادونه سوې چې په اوبو کې ادرار کول، پف کول او توکول منع دي او همدارنګه د اوبو لوښي بايد پټ وساتل سي او په مصرف کې يې اعتدال وسي، دا ځکه چې د اوبو پاکوالی د انسان د روغتيا، د صحيح عبادت او د نورو ژونديو موجوداتو لپاره مهم دی، په عمومي ډول اسلام خلګ هڅوي چې اوبه تل پاکې وساتي او د ککړتيا د مخنيوي لپاره ټول لازم وسايل برابر کړي ترڅو د ټولني لپاره د ژوند ښه چاپېريال وي.

**کليدي کلمې:** نبوي هدايات، اوبه، پاکوالی، ناپاکي، چاپېريال

ترلاسه سوې: ۱۴۰۴/۰۵/۰۳ منل سوې: ۱۴۰۴/۰۵/۳۰ خپره سوې: ۱۴۰۴/۰٦/۳۰ دثبت ګڼه: LSSAJ-2-1-13 مخونه (۱۵۹-۱۷۵)

## سريزه

الحمد لله رب العالمين الذي لا أحصى نعمه، و لا أقدر على أداء شكره إلا بمعونته، والصلاة والسلام أولاً و آخراً على نبينا اشرف الانبياء و المرسلين محمد المبعوث رحمة للعالمين و على اله و أصحابه و أزواجه و ذرياته و أتباعه و سلم تسليما دائما كثيراً كثيرا.

اما بعد: په دې عصري دور کې چې د صنعتي پرمختګ او انساني فعاليتونو له امله د چاپېريال ستونزي ورځ تر بلې ډېرېږي، د اوبو ککړتيا يوه جدي او پراخه ستونزه ګرځېدلې ده، اوبه د ژوند سرچينه او د هر ژوندی موجود د بقا لپاره اساسي اړتيا ده، نو ځکه د هغې پاکوالی او ساتنه د ټولني د روغتيا او د چاپېريال د توازن لپاره ضروري ګڼل کيږي، اسلام د يوه بشپړ ژوند د لارښود په توګه نه يوازې د انساني روحاني او اخلاقي اړخونو پاملرنه کړې، بلکې د طبيعي سرچينو، په ځانګړې توګه د اوبو د پاکوالي او ساتني لپاره يې واضح هدايات وړاندې کړي دي.

نبوي هدايات چي د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د سنتو په شکل کي موږ ته رارسېدلي، د اوبو د سپما، د ککړتيا مخنيوي، او د چاپېريال د ساتني په اړه مهم اصول لري، دا هدايات د هغه وخت د خلگو لپاره نه يوازي د فزيکي ژوند د ستونزو د حل لپاره بلکي د اوږدمهاله چاپېريالي توازن لپاره هم لارښوونه کوي، په دې تحقيق کي به د نبوي هداياتو د اوبو د ککړتيا د مخنيوي په اړه لارښووني مطالعه کيږي او د هغو رول به د چاپېريالي ستونزو په حل کي ارزول کيږي.

## د څېړني اهداف

1) د نبوي هداياتو راټولول چي د اوبو د چټلتيا د مخنيوي په اړه راغلي دي.
2) د اوبو اړوند د نبوي احاديثو وقايوي منهج بيانول، تر څو په عملي کولو سره يې د اوبو او چاپېريال ساتنه منځ ته راسي.
3) د اسلامي تعليماتو له لاري د اوبو د پاکوالي او ساتني په اهميت به پوه سو.
4) د نبوي سنتو په رڼا کي د اوبو د پاک ساتلو په اړه خلگو ته عامه پوهاوی ورکول.

## د څېړني اهميت

1) خلگ به د اوبو د پاک ساتلو په اړه د ديني مسؤوليت احساس وکړي.
2) نبوي لارښوونې د اوبو د پاک ساتلو لپاره جامع اصول وړاندي کوي چي نننۍ نړۍ کي هم عملي دي.
3) د اسلامي منابعو له لاري د چاپېريال ساتني اصول خلگو ته روښانه کيږي.
4) له نبوي لارښوونو سره سم د چاپېريالي ستونزو د حل لپاره د متخصصينو او علاقه مندانو د پوهي او وړتياوو زياتول.

## د څېړني پوښتني

1) د اوبو د ناپاکۍ څخه د ساتني په اړه نبوي لارښووني څه دي؟
2) د اوبو د ناپاکۍ څخه د ساتني په اړه د راغلو احاديثو شرعي احکام څه ډول دي؟
3) هغه لاري چاري کومي دي چي نبوي احاديثو ورته اشاره کړې ترڅو د اوبو د ناپاکۍ څخه د ساتني له لاري چاپېريال وساتل سي؟

### د څیړنې اړوند مخکنۍ څیړنې

زما څیړنې ته ورته څېنې نورې څېړنې هم په عربي ژبه کې ترسره سوې دي، چې د هغو د جملې څخه یوه هم د محمد مرسي ده چې د (الاسلام والبیة) تر عنوان لاندې یې ترسره کړې ده.
دوهمه څېړنه چې زما لاسته ته راغلې ده هغه د دکتور یوسف قرضاوي رحمه الله ده، چې د (رعاية البيئة في شريعة الإسلام) تر عنوان لاندې تر سره سوې ده.
پورته دوې څېړنې که څه هم د چاپېریال اړوند دي، ولې یوه برخه یې زما د څېړنې سره سمون لري.

## د څېړنې کړنلاره

په دې څېړنه کې مې استقرایي منهج کارولی، څو د نبوي احادیثو د راټولولو او د اوبو د ساتنې په اړه د هغو اغېز څرګند کړم، او همدارنګه مې تحلیلي مېتود کارولی، څو د دغو احادیثو تخریج، د هغوی د صحت معلومول، د هغوی شرعي حکم او د چاپېریال ساتنې په اړه یې تحلیل او تشریح وکړم، د قرآن کریم ترجمه مې د کابلي تفسیر څخه کړې، د نبوي احادیثو ژباړه مې د احادیثو د مختلفو شروحاتو څخه کړې ده.

### د اوبو ارزښت او په ژوند کې یې حیاتي اړتیا

اسلام اوبه د ژوند سرچینه ګڼي او د دې د ساتنې او مصرف په اړه لارښووني کوي، ځکه اوبه د الله تعالی لوی نعمت او د ژوند لپاره حیاتي اړتیا ده.

### اوبه او په ژوند کې یې اړتیا

اوبه یو ډېر مهم او چاپېریالي عنصر دی، چې د ټولو موجوداتو ژوند پرې ولاړ دی، ځکه چې اوبه د ژوند اساس جوړوي، دا د ژوند په پرمختګ کې ستر رول لري، او د کموالي یا ناپاکه کېدو په صورت کې یې د ژوند په بهیر ډېر بد اغېز پرېوځي، الله تعالی په قرآن کریم کې د اوبو اړوند فرمائي:
﴿وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ﴾[الأنبياء: 30].
ژباړه: او مونږ هر ژوندی شی د اوبو څخه پیدا کړی، نو آیا دوی ایمان نه راوړي.
الله تعالی په دې آیت کې موږ ته ښیي چې اوبه د هر ډول ژوند لپاره مهمې دي، که د انسان ژوند وي، که د حیوان او یا د نباتاتو ژوند، که اوبه ونه لري ژوندي به پاته نه سي، ټول ژوندي موجودات د اوبو په ذریعه وده کوي، تازه پاته کیږي او ژوند ته دوام ورکوي.

همدارنګه اوبه د انسان د نظافت او د لمانځه د صحت لپاره یوه وسیله ده الله جل جلاله په قرآن کریم کې فرمائي:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا﴾[المائدة: 6].

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی کله چې تاسې د لمانځه لپاره پورته کیږئ، نو خپل مخونه او تر څنګلو پورې لاسونه ومینځئ، او په خپلو سرو باندې مسح وکړئ، او خپلې پښې تر زنګنو پورې ومینځئ، او که په جنابت کې واست نو خپل ځان پاک کړئ.

په دې آیت کریمه کې الله تعالی د اوبو د استعمال حکم کړی دی، لمونځ چې مهم عبادت دی بې له اوداسه یا بېله غسله نه صحیح کیږي، نو دلته ښکاري چې اوبه یوازې د بدن ظاهري پاکی لپاره نه بلکې د روحاني پاکۍ او عبادت لپاره هم ضروري دي.

بل ځای الله جل جلاله په قرآن کریم کې فرمائي:

﴿وَاذْكُرْ عَبْدَنَا أَيُّوبَ إِذْ نَادَى رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ السيطَانُ بِنُصْبٍ وَعَذَابٍ (41) ارْكُضْ بِرِجْلِكَ هَذَا مُغْتَسَلٌ بَارِدٌ وَشَرَابٌ [ص: 41، 42]﴾.

ژباړه: او زموږ بنده ایوب علیه السلام یاد کړه، کله چې یې خپل رب ته زاری وکړې، بېشکه شیطان ما ته په تکلیف او عذاب سره ضرر رسولی دی، الله جل جلاله ورته وویل: په خپله پښه باندې ځمکه ووهه د یخو اوبو چینه ده د پرېولوو او څښلو لپاره.

په دې آیت کې د حضرت ایوب علیه السلام قصه بیان سوې چې هغه په اوږدې ناروغۍ او تکلیف اخته سوی وو، کله چې یې په عاجزۍ سره دعا وکړه او الله تعالی ته یې خپل حال څرګند کړ، الله تعالی ورته امر وکړ چې په خپله پښه ځمکه ووهه له هغه ځایه یخې اوبه راووتلې، د همدې اوبو په وسیله الله تعالی ایوب علیه السلام ته شفا ورکړه، هغه په دغو اوبو غسل وکړ او و یې څیښلې، د بدن ټولې ناروغۍ یې له مینځه ولاړې.

دا آیت کریمه موږ ته ښیي چې اوبه یوازې د ژوند بقا لپاره نه دي، بلکې د ناروغیو د علاج، بدن د صفا کولو، او انرژۍ ورکولو لپاره هم ضروري دي، الله تعالی د اوبو په وسیله ایوب علیه السلام ته صحت ورکړ چې دا د اوبو اهمیت او ضرورت ښکاره کوي.

په دې کې دا پیغام هم سته چې هر څوک باید د اوبو قدر وکړي او پوه سي چې اوبه د الله تعالی له لوري یو ستر نعمت دی چې ژوند، صحت، او علاج ټول په کې نغښتي دي.

بل آیت کریمه کې الله تعالی داوبو د پاکۍ اړوند فرمائي:

﴿وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُورًا﴾ [الفرقان: 48]

ژباړه: او مونږ له آسمانه څخه پاکي اوبه راکښته کړې.

دا اوبه پاکي دي او د پاکولو لپاره استعمالیږي، چې بدن، کالي، ځمکه او ټول ژوند پرې صفا کیږي، همدا اوبه دي چې د بوټو وده، د ځارویو ژوند او د انسان بقا پرې ولاړه ده، دا اوبه د عبادت لپاره طهارت او پاکوالی هم راوړي، لکه اودس او غسل چې د لمانځه شرط دي، له دې څخه دا معلومیږي چې اوبه د ژوند او دین دواړو لپاره اساس دی.

دې ته ورته بل آیت کریمه کې الله جل جلاله فرمائي:

﴿وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لِيُطَهِّرَكُمْ بِهِ﴾ [الأنفال: 11]

ژباړه: او الله جل جلاله له آسمانه څخه پر تاسو باندي اوبه راښکته کوي، ترڅو تاسې پرې پاک کړي.

پورتني ټول آیتونه په دې خبري دلالت کوي چې اوبه د الله تعالی یو ستر نعمت دی، الله پاک اوبه د ژوند د بقا، د پاکۍ، د ناروغیو د علاج، د عبادت د طهارت او نورو لپاره پیداکړي دي، په دې آیاتونو کې ښکاري چې اوبه د هر ژوندي جسم لپاره ضروري دي، الله تعالی اوبه پاکي نازلي کړي دي، د حضرت ایوب علیه السلام لپاره یې د شفا وسیله وگرځولې، د مسلمانانو لپاره یې د طهارت او پاکۍ سبب کړې، دا ټول آیتونه دا څرگندوي چې اوبه د ژوند بنسټ دی او انسان یې باید قدر وکړي، په انصاف سره یې وکاروي.

د رسول صلی الله علیه وسلم څخه ډېر احادیث را رسېدلي دي چې د اوبو د ساتنې په اړه یې تاکید کړی دی، او د اوبو د خرابولو او چټلولو څخه یې منع کړې ده، لکه په لاندې احادیثو کې فرمائي:

د اوبو د اهمیت اړوند او همدارنګه د لمانځه د صحت لپار احادیث راغلي دي لکه چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي:

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ تُقْبَلُ صَلاَةُ مَنْ أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ» (صحيح البخاري (1/ 39)).

ژباړه: همام بن منبه وایي چي هغه د ابو هریره رضي الله عنه څخه واورېد چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

تر څو چې یې اودس نه وي کړي هغه لمونځ نه قبلیږي.

په دې حدیث کي د اوبو اهمیت څرګند سوی دی، ځکه چي اودس د اوبو پرته نه کیږي، او لمونځ د اودس څخه پرته قبول نه دی، نو دا ښيي چې اوبه نه یوازې د بدن د پاکوالي لپاره ضروري دي، بلکي د عبادت او د الله تعالی د حکم د پوره کولو لپاره هم اړینې دي.

همدارنګه په احادیثو کي نبي کریم صلی الله علیه وسلم خلګ هڅولي دي چي په اوبو سره تداوي وکړي لکه چي فرمائي:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «الحُمَّى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ فَأَبْرِدُوهَا بِالْمَاءِ» (صحيح البخاري (4/ 121)).

ژباړه: عایشه رضي الله عنها وایي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تبه د دوزخ له تودوخي څخه ده، نو په اوبو سره یې یخه کړئ.

په دې سره ښکاري چي اوبه نه یوازي د ژوند، پاکی او عبادت لپاره ضروري دي، بلکي د علاج او روغتیا لپاره هم لوی نعمت دی، او دا د نبوي طب یوه مهمه لارښوونه ده چي انسان ته په طبعي او اسانه طریقه شفا ورکوي.

بل حدیث کي نبي کریم صلی الله علیه وسلم د زمزم د اوبو اړوند فرمائي:

عَنْ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَاءُ زَمْزَمَ، لِمَا شُرِبَ لَهُ ". (سنن ابن ماجه (2/ 1018)).

ژباړه: حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه وایي: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چي ویې فرمایل: د زمزم اوبه د هغه څه لپاره دي چي د هغه په نیت وڅښېل سي.

په دې حدیث کې د زمزم د اوبو فضیلت بیان سوی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې د زمزم اوبه د هر هغه مقصد لپاره ګټوري دي چې په نیت سره یې وڅښل سي، که د ناروغۍ علاج وي، که د لوږې ختمول وي، که د علم غوښتنه وي او که د زړه او روح پاکوالی وي.

بل حدیث کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د اوبو د پاکوالی اړوند فرمائي: «الْمَاءُ طَهُورٌ لاَ يُنَجِّسُهُ شَيْءٌ» (سنن أبي داود(17 /1) ).

ژباړه: اوبه پاکې دي، هیڅ شی یې نسي نجسي کولای.

اوبه د الله تعالی لخوا په خپله فطرت کې پاکې دي، او د طهارتستره وسیله دي په دې کې د اوبو د عظمت او د عبادت او طهارت لپاره د هغوی ارزښت ښیي.

### په عباداتو کې د اوبو اهمیت

اوبه د انسان د ژوند لپاره ضروري دي، خو په ځانګړي ډول په عبادت کې یې اهمیت لا زیات دی، په اسلام کې پاکوالی د عبادت شرط دی او اوبه د طهارت لپاره اصلي وسیله ده.

قرآن کریم موږ ته ښیي چې د انسان عبادت، توبه او استغفار د اوبو له نازلیدو سره تړلي دي، یعني کله چې انسان له الله تعالی څخه بخښنه غواړي او توبه کوي نو الله تعالی په ځمکه باندي رحمتونه نازلوي، چې په هغو کې تر ټولو لوی نعمت اوبه دي، لکه په قرآن کریم کې چې الله تعالی فرمایي:

﴿وَيَاقَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا﴾ [هود: 52].

ژباړه: ای زما قومه! له خپل رب څخه بخښنه وغواړئ، بیا هغه ته توبه وباسئ، هغه به له اسمانه څخه ډېر بارانونه په پرله پسې توګه درباندې را و اوروي.

همدارنګه استقامت او د الله تعالی په اطاعت کې دوام د رزق، اوبو، او رحمتونو د نزول سبب ګرځي لکه چې الله جل جلاله فرمائي:

﴿وَأَلَّوِ اسْتَقَامُوا عَلَى الطَّرِيقَةِ لَأَسْقَيْنَاهُمْ مَاءً غَدَقًا﴾ [الجن: 16].

ژباړه: او که دوی په سمه لاره ټینګ پاته سوي وای، نو موږ به دوی ته ډېرې اوبه ورکړې وای.

همدارنگه په احادیثو مبارکو همدي موضوع ته اشاره سوي ده، کله چي خلګ په خپلو اعمالو کي فساد وکړي او د الله تعالی احکامو ته پاملرنه ونه کړي، نو په څمکه کي به د قحطۍ، وچکالۍ او باران بندېدو په څېر عذابونه راسي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: أَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا مَعْشَرَ الْمُهَاجِرِينَ خَمْسٌ إِذَا ابْتُلِيتُمْ بِهِنَّ، وَأَعُوذُ بِاللَّهِ أَنْ تُدْرِكُوهُنَّ: لَمْ تَظْهَرِ الْفَاحِشَةُ فِي قَوْمٍ قَطُّ، حَتَّى يُعْلِنُوا بِهَا، إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الطَّاعُونُ، وَالْأَوْجَاعُ الَّتِي لَمْ تَكُنْ مَضَتْ فِي أَسْلَافِهِمُ الَّذِينَ مَضَوْا، وَلَمْ يَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ، إِلَّا أُخِذُوا بِالسِّنِينَ، وَشِدَّةِ الْمَئُونَةِ، وَجَوْرِ السُّلْطَانِ عَلَيْهِمْ، وَلَمْ يَمْنَعُوا زَكَاةَ أَمْوَالِهِمْ، إِلَّا مُنِعُوا الْقَطْرَ مِنَ السَّمَاءِ، وَلَوْلَا الْبَهَائِمُ لَمْ يُمْطَرُوا.... الي اخره. (سنن ابن ماجه (1332 /2)

ژباړه: عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ خواته راغی او ویې فرمایل: ای د مهاجرینو ډلي! پنځه شیان دي چي که په هغوی باندي وازمایل سئ (نو بد عواقب به ولري)، او زه له الله تعالی څخه پناه غواړم چي تاسو هغو ته ورسیږئ(په و ازمویل سی)، په هیڅ قوم کي فحشاء او بې حیایي نه ښکاره کیږي تر هغه چي په ښکاره یې ترسره کړي، مګر په هغوی کي به طاعون او داسي ناروغۍ خپرې سي چي د هغوی په تیر سوو نسلونو کي به نه وي، او که په پیمانه او وزن کي درغلي وکړي نو د قحطۍ، د ژوند د سختیو او د ظالم واکمن په عذاب به ونیول سي، او که د خپلو مالونو زکات ور نه کړي، نو له اسمانه څخه به باران پرې بند سي، او که د څارویو لپاره نه وای، نو هېڅ باران به پرې ونه اوري.

د اوبو او باران بندېدل یوازي طبیعي پېښه نه ده، بلکي د خلګو د اعمالو او د الله تعالی د فرمانونو د مخالفت نتیجه هم وي  الله تعالی د توبې، استغفار، عدالت او زکات په وسیله خپل رحمتونه نازلوي.

## له ناپاکیو څخه د اوبو ساتنه

اوبه د ژوند بنسټ دی، پرته له اوبو ژوند امکان نه لري خو دا ستر نعمت که ککړ سي، نه یوازي د انسانانو، بلکي د څارویو، فصلونو او ټول چاپېریال لپاره ستر ګواښ جوړوي، په همدې اساس، د

اوبو پاک ساتل د هر مسلمان ديني او ټولنيز مسووليت دی، که موږ وغواړو روغ او سوکاله ژوند ولرو، نو باید اوبه د ککړتیا څخه وژغورو او د دې ستر الهي نعمت درناوی وکړو.

## د اوبو چټلتیا

د اوبو ککړتیا زیاتره د انسانانو د کړنو له امله رامنځ ته کیږي، لکه د کور او صنعت فاضله اوبه په سیندونو او بحرونو کې اچول، د فابریکو ګرمي اوبه، د نفتي موادو تویېدل، او کیمیاوي فاضله مواد چې اوبه زهرجنوي، دا ککړتیا د ناروغیو د خپرېدو، د ژوندي موجوداتو د مرګ او د چاپیریال د تباهۍ او ککړتیا سبب ګرځي.

همدارنګه کله چې د بحرونو، جهیلونو، سیندونو او چینو اوبه ککړې سي، ککړ مواد د وریځو له لارې باران ته ورځي او له هغې سره ځمکې ته راځي، دا ډېرې وخت د تېلو د سوزېدو له دود، د صنایعو له فاضله اوبو او د تېلو د بار وړونکو کښتیو له چپه کیدو څخه رامنځته کیږي چې اوبه او چاپېریال په پراخه کچه ککړوي.

## د ناپاکیو څخه د اوبو ساتل

## د اوبو پاک ساتل

په نبوي احادیثو کې د اوبو پاک ساتنې اړوند مهمي لارښووني سوي دي ، په ځانګړي ډول هغه اوبه چې د طهارت او استعمال لپاره کارېږي، باید له هر ډول چټلیو څخه خوندي وساتل سي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم خلګو ته ددې لپاره لارښوونه کړې ده چې کله له خوبه راویښ سی، نو خپل لاسونه په لوښي کې مه ننباسی تر څو چې مو دري ځلي نه وي مینځلي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ، فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ».( صحیح مسلم(233 /1) ).

ژباړه: د ابي هریرة رضي الله عنه څخه روایت دي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم و فرمایل: کله چې یو کس ستاسي څخه د خوبه راکښیني، نو خپل لاس دي د اوبو لوښي ته نه ورغوټه کوي

ترڅو چې يې دري واري خپل لاسونه مينځلي نه وي، ځکه چې دغه کس نه دی خبر چې دده لاس شپه چېرې تيره کړې ده.

**د اوبو د لوښو سرونه پټ ساتل**

دا چې اوبه د انسان د صحت لپاره ډېرې ضروري دي، خو که د اوبو د لوښو سرونه خلاص پاته سي نو له ګڼو ميکروبونو څخه ککړېدلی سي چې انسان ته زيان رسوي له همدې امله د اوبو د لوښو د پوښلو په اړه نبوي احاديث راغلي دي څو په دې ډول اوبه له ناروغيو، افتونو څخه وساتل سي.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم د اوبو د لوښو د سرونو پټ ساتلو اړوند فرمائي:

عَنْ جَابِرٍ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «غَطُّوا الْإِنَاءَ، وَأَوْكُوا السِّقَاءَ، وَأَغْلِقُوا الْبَابَ، وَأَطْفِئُوا السِّرَاجَ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَحُلُّ سِقَاءً، وَلَا يَفْتَحُ بَابًا، وَلَا يَكْشِفُ إِنَاءً، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلَّا أَنْ يَعْرُضَ عَلَى إِنَائِهِ عُوداً، وَيَذْكُرَ اسْمَ اللهِ، فَلْيَفْعَلْ، فَإِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ تُضْرِمُ عَلَى أَهْلِ الْبَيْتِ بَيْتَهُمْ» صحيح مسلم(3/ 1594) .

ژباړه: جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: لوښي پټ کړئ، هغه لوښي چې اوبه په کښې وي سرونه يې وتړی، دروازې بندي کړئ، او څراغ مړ کړئ، ځکه چې شيطان نه سي کولای چې د بندو لوښو سرونه خلاص کړي، نه دروازه خلاصولای سي، او نه هم لوښي خلاصولی سي، که ستاسي څخه يو څوک پرته له دې چې د لوښي پر خوله د لرګي ټوټه کښيږدي او د الله نوم باندی ووايې، بل څه پيدا نه کړي، نو همداسي دي وکړي، ځکه يو وړوکی ضرر رسوونکی ژوی (لکه موږک) د کور خلګو ته اور ور اچوي (په څراغ باندې غورځيدو سره).

امام نووي رحمه الله د حديث په شرحه کي ليکي:

(وذكر العلماء للأمر بالتغطية فوائد منها الفائدتان اللتان وردتا في هذه الأحاديث وهما صيانته). (شرح النووي على مسلم (13/ 183)).

ژباړه: علماوو د لوښو د پوښلو لپاره خو ګټې ذکر کړي دي، چې له هغو څخه دوه ګټې په همدې احادیثو کې راغلي دي:

1. د شیطان څخه ساتنه: ځکه شیطان پوښ نه لېري کوي او نه د اوبو لوښی خلاصوي.
2. د وبا څخه ساتنه: ځکه په کال کې یوه شپه داسې وي چې وبا نازلیږي.
3. د نجاست او ناپاکیو څخه ساتنه: لکه ککړتیاوې او ناپاکه شیان.
4. د حشراتو او زهري ژوو څخه ساتنه: کېدای سي چې کوم داسې شی په کښې داخل سي او انسان بې خبره هغه اوبه وڅیښي، په ځانګړې ډول د شپې له خوا، نو تاوان به ورته ورسوي.

پورتني ټول احادیث په دې ټینګار کوي چې د اوبو لوښي باید وپوښل سي ترڅو اوبه له میکروبونو او ناروغیو څخه خوندي پاته سي او د انسان روغتیا ته تاوان ونه رسوي.

**دریم جزء: په لوښي کې ساه نه کښل او پوکی نه کول**

په اسلامي شریعت کې د پاکوالي او حفظ الصحې ځانګړې پاملرنه سوې ده، له دې جملې څخه یوه مهمه لارښوونه د اوبو د لوښو پاک ساتل دي، په لوښي کې د ساه کښلو یا پوکل کولو څخه پرهیز کول د سنت نبوي یوه غوره برخه ده، ځکه چې دا کار د لوښو د اوبو د ککړتیا او د ناروغیو د خپرېدو لامل ګرځي، نبوي احادیثو کې دې عمل ته اشاره سوې او مؤمنان ته یې سپارښتنه کړې چې د لوښو پوښلو، او د لوښو د پاک ساتلو په اړه خاصه پاملرنه وکړي، دا لارښوونه نه یوازې د فرد روغتیا ساتي، بلکې د ټولنې په کچه د ناروغیو مخنیوی هم کوي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم حدیث مبارك کې فرمائي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا شَرِبَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَتَنَفَّسْ فِي الإِنَاءِ...». (صحيح البخاري (1/ 42)).

ژباړه: ابي قتاده رضي الله عنه د خپل پلار څخه روایت کوي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم و فرمایل: کله چې یو کس ستاسو څخه اوبه څیښي نو په اوبو کې دې ساه (تنفس) نه کاږي.

دې ته ورته بل حدیث امام ترمذي رحمه الله را نقل کړی دی:

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ«أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يُتَنَفَّسَ فِي الإِنَاءِ أَوْ يُنْفَخَ فِيهِ»، هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ (سنن الترمذي ت شاكر (4/ 304)).

ژباړه: ابن عباس رضي الله عنه فرمائي چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم په لوښي کي د ساه (تنفس) کښلو او پوکي کولو څخه منع کړي ده.

بل حديث کي امام مسلم رحمه الله را نقل کړی دی:

عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَنَفَّسُ فِي الشَّرَابِ ثَلَاثًا، وَيَقُولُ: «إِنَّهُ أَرْوَى وَأَبْرَأُ وَأَمْرَأُ»، قَالَ أَنَسٌ: «فَأَنَا أَتَنَفَّسُ فِي الشَّرَابِ ثَلَاثًا» (صحيح مسلم (3/ 1602)).

ژباړه: انس رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د څښاک په مهال دري ځله ساه اخیسته (یعني په یو ځل به یې ټول نه څیښل، بلکي څو واره به یې ساه اخیسته او بیا به یې څیښل) او ویل به یې: دا ښه اوبوونکی، ډېر روغتیایي او ډېر خوندور دی، انس رضی الله عنه وویل: نو زه هم په څښاک کي دري ځله ساه اخلم.

ابن حجر رحمه الله د ددې حديث په شرحه کي لیکي:

(وَالْمَعْنَى أَنَّهُ يَصِيرُ هَنِيئًا مَرِيًّا بَرِيًّا أَيْ سَالِمًا أَوْ مُبْرِيًا مِنْ مَرَضٍ...) (فتح الباري لابن حجر (10/ 94)).

ژباړه: کله چي په دري وقفو کي اوبه وڅيښل سي، نو دا څیښاک هوسا، خوږ، او بې ضرره ګرځي، یعني انسان ته یې څیښل اسانه وي، له ناروغۍ، تندي او ضرر څخه یې ساتي، په دې ډول څښلو سره د انسان تنده ښه له مینځه ځي، هضم یې ښه کیږي، د بدن کمزوري نه راولي او معدې ته هم یخوالی او تکلیف نه رسوي.

همدرانګه ابن حجر رحمه الله  په لوښو کی د ساه کښلو او پوه کولو اړوند فرمائي:

(وَجَاءَ فِي النَّهْيِ عَنِ النَّفْخِ فِي الْإِنَاءِ عِدَّةُ أَحَادِيثَ وَكَذَا النَّهْيُ عَنِ التَّنَفُّسِ فِي الْإِنَاءِ لِأَنَّهُ رُبَّمَا حَصَلَ لَهُ تَغَيُّرٌ مِنَ النَّفَسِ...) (فتح الباري لابن حجر (10/ 92)).

ژباړه: په لوښو کي د پوه کولو په اړه څو احادیث راغلي دي چي منع تري کوي، او همدارنګه په لوښو کي د ساه ایستلو (تنفس) په اړه هم منع راغلې ده، ځکه کیدای سي د تنفس له امله د اوبو یا څیښاك خوند بدل سي، دا د دې لپاره چي کیدای سي د ساه اخیستونکي خوله د خوراکي موادو له امله بد بویه وي، یا دا چي ډېر وخت یې مسواك یا خوله نه وي پرېول سوې، او یا دا چې د معدې بخار د تنفس سره پورته سي، په دې ټولو حالاتو کي په لوښو کي پوه کول د ساه ایستلو څخه لا زیات ناخوښه او سخت دي.

امام حلیمي رحمه الله په دې اړه لیکي:

(قَالَ الْحَلِيمِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: وَهَذَا لأَنَّ الْبُخَارَ الَّذِي يَرْتَفِعُ مِنَ الْمَعِدَةِ, أَوْ يَنْزِلُ مِنَ الرَّأْسِ, وَكَذَلِكَ رَائِحَةُ الْجَوْفِ قَدْ يَكُونَانِ كَرِيهَيْنِ...) (الجامع لشعب الإيمان للبيهقي (8/ 135)).

ژباړه: امام حلیمي رحمه الله ویلي دي: دا ځکه چي هغه بخار چي له معدې څخه پورته کېږي یا له سر څخه ښکته راځي، او همدارنګه د خېټي دننه بوی، دواړه کېدای سي ناخوښه او بد بویه وي، نو یا خو دا بوی د اوبو سره ګډ سي او اوبو ته تاوان ورسوي، او یا دا چي د اوبو پاته برخه (څوك چي یې وروسته څیښي) نورو ته بده ښکاره سي، ځکه که خلګ پوه سي چي په دې کي د بل چا ساه او بد بویې ګډه ده، نو نه به یې وڅیښي او بد به ورته ښکاره سي.

په پورته حدیثونو کي د اوبو په لوښي کي د ساه اخیستو او پوه کولو بد والی بیان سوی دی، ځکه دا کار اوبه له چټلۍ او ناروغیو مینځته راوړلو سبب ګرځي، دا عمل کیدای سي اوبه ناپاکي کړي، میکروبونه خپاره کړي، د څیښونکي په خوله کي ضرر وي او نورو خلګو ته به بد ښکاره سي.

## په ولاړو اوبو کي بولي نه کول

نبي کریم صلی الله علیه وسلم په احادیثو کي سپارښتنه کړې چي باید په ولاړو اوبو کي، چي حرکت نه کوي بولي ونه سي، دا ځکه چي داسي کار د اوبو د ککړتیا سبب ګرځي او د خلګو د صحت لپاره خطرناك دی، ترڅو اوبه د څیښلو، غسل او نورو ورځنیو اړتیاوو لپاره پاکي پاته سي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ ثُمَّ يَغْتَسِلُ مِنْهُ» (صحيح مسلم (1/ 235)).

ژباړه: ابوهريره رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ستاسي هيڅ يو کس دي په ولاړو اوبو کې بولې نه کوي، په داسې حال کې چې بيا دی د همدې اوبو څخه غسل کوي(يعني دا هغه اوبه دي چې انسان ورته د غسل او نورو اړتياوو لپاره حاجت لري).

د پورته حديث په شرح کې ابن بطال رحمه الله ليکي:

(فإن كان الماء كثيراً فالنهى عن ذلك على وجه التنزه لأن الماء على الطهارة حتى يتغير أحد أوصافه، فإن كان الماء قليلاً فالنهى عن ذلك على الوجوب، لفساد الماء بالنجاسة المغيرة له) (شرح صحيح البخارى لابن بطال (1/ 352)).

ژباړه: که اوبه ډېرې وي، نو د تنزه لپاره له نجاست څخه ځان ساتل پکار دي ځکه چې اوبه تر هغه وخته پاکې دي تر څو يې صفتونه متغير سوي نه وي، او که اوبه لږې وي، بيا وجوباً بايد ځان ترې وساتل سي ځکه چې په دې حالت کې اوبه ژر ناپاکه کېږي.

پورته احاديث د هر ډول ککړتياوو څخه د اوبو پر پاک ساتلو باندې دلالت کوي، چې په متيجه کې مختلف امراض را مينځته کوي.

## مناقشه

که څه هم په همدې موضوع کار نه دی سوی، ولې دې څېړني ته ورته نورې څېړنې سوې دي چې مناقشه يې په لاندې ډول سره کولای سو.

د نورو څېړنو په پرتله زما څېړنه نبوي هداياتو ته ځانګړې سوې ده چې د هغو د جملې څخه اوبه د الله جل جلاله ستر نعمت دی، د سنتو جزئي لارښوونو (لکه د لوښو پوښل، په اوبو کې پوکې نه وهل، په اوبو کې بولې نه کول) په ډېر وضـــاحت سره بيانوي، همدارنګه دا څېړنه د شرعي، اخلاقي او صـــحي اړخونو تر منځ توازن لري، حال دا چې دې ته ورته څېړنې يوازې په يو اړخ متمرکزې وي لکه د اوبو چاپېريالي ارزښـــت اړوند ، د طبيعي سرچينو خوندي کول او د انســـان

روغتیا ساتل، ځیني یې د اوبو اقتصادي او ټولنیز اهمیت ته متوجه وي، لکه د کرنې، صنعت او ورځني ژوند اړتیاوي.

## پایله

اوبه د الله جل جلاله یو ستر نعمت دی چې د انسان د توبې، بخښنې، تقوا او ایمان د پیاوړتیا لپاره مهمه وسیله ګڼل کېږي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونې موږ ته دا راښیي چې د اوبو په کارولو کې باید د اسراف او ضایع کیدو څخه ځان وساتو، لوښي بې ځایه ونه کاروو او د سالم استعمال لاري چاري خپل کړو، نبوي سنت د اوبو د ساتنې او د پاک ساتلو لپاره روښانه لارښووني لري، لکه د لوښو د سر پوښل، په اوبو کې پوکی نه کول او نه هم ساه په کې اچول، د لوښي د خولې څخه اوبه نه څښل او په ولاړو اوبو کې له بولو کولو څخه ډډه کول، دغه لارښوونې نه یوازې د اوبو ناپاکی د مخنیوي لپاره بنسټیزې دي، بلکې د انسان روغتیا او د چاپېریال د سلامتیا لپاره هم اغېزمن رول لري، د نبوي سنتو په رڼا کې څرګندیږي چې اوبه د انسان د ژوند د بقا لپاره ځانګړې ارزښت لري او ساتنه یې یو شرعي او اخلاقي مسؤولیت دی.

**سپارښتنې:**

د اوبو د ښه ساتنې لپاره لاندې سپارښتنې ضروري دي:

1) علمي مرکزونه دې خپلو طالبانو او شاګردانو ته د اوبو له ککړتیا او بې ځایه مصرف څخه د مخنیوی اړوند اصلاحي پروګرامونه جوړ کړي.
2) د اوبو په برخه کې د چاپېریال ساتنې لپاره دیني، ټولنیز، اخلاقي او قانوني چوکاټونه وضع کول.
3) د چاپېریال ساتنې د دیني وجوب په اړه د علماوو له لارې خطبې او درسونه وړاندې کول.
4) د چاپېریال د قوانینو جوړولو او پلي کولو پر مهال د نبوي لارښود د اصولو په پام کې نیول.
5) هڅه کول چې د ککړتیا سرچینې د اوبو او د هغې له جریانونو څخه جلا او لېرې وساتل سي.
6) د سیندونو، ویالو او زیرمو د فزیکي ساتنې لپاره ټولنیز کمپاینونه او پروګرامونه جوړول.

**مأخذونه:**


قرآن کریم

1. مرسي، محمد ، الطبعة الاولى الرياض ١٤٢٠ هـ ق ـــ ١٩٩٩ م، الاسلام والبية.
2. البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله الجعفي، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي)، الطبعة: الأولى، 1422هـ.، صحيح البخاري.
3. البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخرا ساني، أبو بكر (المتوفى: 458 هـ)، المحقق: عبد العلي عبد الحميد حامد، الطبعة: الأولى، 1423 هـ - 2003 م، الجامع لشعب الإيمان، الناشر: مكتبة الرشد بالرياض.
4. قرضاوي، دکتور یوسف، الطبعة الاولى ١٤٢١ هـ ق ـــ ٢٠٠١م، رعاية البيئة في شريعة الإسلام، دارلشروق.
5. ابن ماجة، أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني، وماجة اسم أبيه يزيد (المتوفى: 273هـ)، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي، سنن ابن ماجه، الناشر: دار إحياء الكتب العربية - فيصل عيسى البابي الحلبي.
6. أبو داود، سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (المتوفى: 275هـ)، المحقق: محمد محيي الدين عبد الحميد، سنن أبي داود، الناشر: المكتبة العصرية، صيدا – بيروت.
7. الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، أبو عيسى (المتوفى: 279هـ)، تحقيق وتعليق: أحمد محمد شاكر (جـ 1، 2) ومحمد فؤاد عبد الباقي (جـ 3) وإبراهيم عطوة عوض المدرس في الأزهر الشريف (جـ 4، 5)، الطبعة: الثانية، 1395 هـ - 1975 م، سنن الترمذي، الناشر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي – مصر.
8. ابن بطال، أبو الحسن علي بن خلف بن عبد الملك (المتوفى: 449هـ)، تحقيق: أبو تميم ياسر بن إبراهيم، شرح صحيح البخارى لابن بطال، دار النشر: مكتبة الرشد - السعودية، الرياض.

9. العسقلاني، أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل الشافعي، 1379، رقم كتبه وأبوابه وأحاديثه: محمد فؤاد عبد الباقي، قام بإخراجه وصححه وأشرف على طبعه: محب الدين الخطيب، فتح الباري شرح صحيح البخاري، الناشر: دار المعرفة - بيروت.
10. ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين الأنصاري الرويفعى الإفريقى (المتوفى: 711هـ)، الطبعة: الثالثة - 1414 هـ.، لسان العرب، الناشر: دار صادر - بيروت.
11. النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري (المتوفى: 261هـ)، المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي، المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، الناشر: دار إحياء التراث العربي - بيروت.
12. النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف (المتوفى: 676هـ)، الطبعة: الثانية 1392، المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، الناشر: دار إحياء التراث العربي - بيروت.

Social Sceince
AcademicJournal

ليد د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# A Study of Water Purity in the Light of Prophetic Guidance

Assistant Lecturer Mohammad Salim Sameen
Department of Islamic Studies, Faculty of Sharia, Helmand University
**Email:** Salimsamin33@gmail.com

## Abstract

The Prophetic traditions place great emphasis on water, as it is essential for life and a right of all. Islam instructs people to protect water from pollution and not to be negligent regarding its cleanliness. The Hadiths prohibit urinating, blowing, and spitting in water, and further advise that water containers should be covered and its use should be moderate. Water purity is vital for human health, the correctness of worship, and the survival of other living beings. Overall, Islam encourages people to always keep water clean and to adopt all necessary measures to prevent contamination, thereby ensuring a healthy environment for society.

**Keywords:** Prophetic guidance, water, purity, impurity, environment.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

**Volume:2 Issue: 1 Year:1404**